د افغانســـتان اسلامی جمهوري دولت

د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت

دولت جمهوری اسلامی افغانســـتان

وزارت امور سرحدات وقبایل

# Islamic Republic of Afghanistan

## Ministry of borders and tribal Affairs

شالید:

د افغانستان د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت یو رهبري کوونکی وزارت دی، چې د قبایلو او د سرحد مېشتو خلکو د ملاتړ او د هغوي اړتیاوې د رابر سیره کولو او د حل په برخه کې همکار دی.

ددې ترڅنګ دغه وزارت د ملي یووالي، سرحدونو ســـاتنې او د هیواد په کچه د ټولنیز عدالت او د متوازنې پراختیا فضـا رامنځته کولو مسـؤلیت پر غاړه لري او همدارنګه دغه وزارت هڅه کوي، چې د ملیت ،قومیت او د جنسـیت په نظر کې نه نیولو سره د افغانانو د ســوکالۍ لپاره بیلا بیلې کړنې ترسره کړي او هڅه کوي، چې د خلکو او دولت ترمنځ واټن له منځه ولاړشي او د یو موټیتوب او د باور فضـا پیاوړې کړي او دغه ځوریدلي او جنګ ځپلي هیواد ته د ســولې او ثبات په راوستلو کې مرسته وکړي .

د لنډ مهاله سروير بست مالومات

| | |
|---|---|
| دندې عنوان: | لنډمهاله سروير |
| وزارت يا اداره | سرحدونو او قبايلو چارو وزارت |
| اړوند برخه: | سرحدونو او قبايلو د اطلاعاتو مديريت پروژه |
| بست ځای: | بادغيس |
| بست شمېر: | ۷ |
| راپور اخيستونکی: | د سرحدونو او قبايلو د اطلاعاتو مديريت پروژې ولايتي مسؤل |
| کد: | ۰۰۴ |

دندې موخه :

د ولايت په ولسواليو او کليو کې سروې او مالومات را ټولول.

### د دندې صلاحیتونه او مسؤلیتونه:

- د جوړو شویو پوښتلیکونو په اساس له اړونده کلیوالي سیمو او د ولسوالۍ له اداري واحدونو څخه د کره مالوماتو راټولول.
- د کلیو له ملکانو، قومی مشرانو، دیني علماو او فعاله ځوانانو سره مرکې کول.
- سروير باید جي پي ایس او او ډي کې سیستمونو د کارونې سره پوره بلد تیا ولري.
- د مالوماتو راټول باید د مرکې او مشاهدو په نظر کې نیولو سره ترسره شي.
- په کلیوالي سیمو کې د اړتیا اړوند د ګردي میزونو یا ( فوکس ګروپونو) جوړول.
- په راټول شوو مالوماتو کې له کتنو وروسته کومې نیمګړتیا موجودې وي د حل په موخه بیا ځلي اړوند سیمو ته د سرویرانو تلل.
- سروير باید د ورکړل شوي پلان مطابق اړوند سیمو ته سفر وکړي او ټاکل شوي کړنلاره په پام کې ونیسي
- د هرې کاري ورځې په پای کې د پروژې ولایتي مسؤل ته راپور ورکول.
- د راټولو شویو مالوماتو محرمیت ساتل او له نورو ادارو او چارواکو سره نه شریکول.
- سروير باید د خپلې اړوند ولسوالۍ ټولو سیمو ته د سفر وړتیا ولري.
- د نورو هغو دندو سرته رسول چې د پروژې ولایتي مسؤل له لوري ورسپارل کیږي.

### زده کړو کچه:
بکلوریا، فوق بکلوریا او لسانس ته ځانګړی امتیاز ورکول کیږي.

### کاري تجربه:
لږ تر لږه د سروې، مالوماتو را ټولولو، څیړنې او یا هم په اړوند برخه کې د یو کال کاري تجربې درلودل.

### د بست اړوند مهارتونه:

- پښتو او دري ژبو سره بلدتیا ولري.
- د اړوند ولسوالیو ټولو کلیو ته سفر وکړای شي.
- د راپور ورکړې په برخه کې پوره مهارت ولري.

### د اسناد لیږلو لاربښود:
پرشرایطو برابر نوماندان کولای شي خپله سي وي د بادغیس ولایت د سرحدونو او قبایلو چارو آمریت او یا هم دغه بریښنالیک ( abdulwahideslamia@gmail.com) ته د پای نیټې له را رسیدو څخه مخکې ولیږي، چې د بریښنالیک په عنوان او همدارنګه په خپله سي وي کې په ښکاره توګه د بست عنوان، ولایت او ولسوالی لیکل شوی وي. نه لیکلو په صورت نوماند له شارټ لیست څخه پاته کیږي.

### یادښت:
د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت هیڅ ډول مذهبي، قومي، ژبني او جنسي توپیر پرته ستاسو را لیږل شوي غوښتنلیک را ټولوي او په پوره شفافیت سره پروسه پر مخ بیايي. هغه غوښتنپاڼې چې اعلان د پای له نیټې څخه وروسته را ولیږل شي د منلو وړ نه دي.